# افغانستان ـــ تاجکستان ـــ پاکستان

## د سرحدي اوبو ورکشاپ

## له لېرې واټن څخه د زده کړې شپږم ماډيول

## په مرکزي او جنوبي اسيا کې د اقليم بدلون عواقب

- په دې وروستيو کلونو کې  د نړۍ په اقليم کې د پاملرنې وړ بدلون راغلی دی، ځکه چې صنعتي کېدو او کرنې نور زيات کاربن ډای اکسايډ او ميتان ګازونه په اتموسفير کې ورزيات کړي د ی.
- د ګرين هوز دا ډول ګازونه د لمر د روښنايي انرژۍ ته اجازه ورکوي، چې له اتموسفير څخه تير شي، خو بېرته  اجازه نه ورکوي، چې خارج شي، نو تودوخه زياتېږي.
- هر څومره چې ځمکه توده شي، يخچالونه اوبه کېږی او توده هوا په ځمکه کې د اوبو تبخير زياتوی، په پای کې وچکالي زياتېږي او سيندونه او جهيلونه اوبه له لاسه ورکوي.
- د وچکالۍ زياتېدل او د انسانانو په واسطه له ابوو څخه زياته ګټه اخيستنه، اتکل کېږي، چې ستنوزې نورې هم زياتې شي. دغو ستونزو ته اختلال او تشدد لامل شوي دي ۱،۶( شکل او ۱،۶ جدول.)




*۱،۶ شکل:  ا فغانستان نقشه يو شمير ستونزې په ګوته کوي، چې اقليمي تغييرات د اوبو د کمبوت لامل شوي دي. د اوبو  د زېرمه کولو ډنډونه، داوبو د بهير په پاسنۍ برخه کې يوه څه ده. چې اوبه په افغانستان کې زېرمه کړي. دغه د بهير په وروستۍ برخه کې ياني په پاکستان او ايران کې ستونزې رامنځته کوي.*

۱،۶ جدول: با لقوه هغه ننګوني او منابع چې د افغانستان او ګاونډي هېوادونو ترمنځ د اصتکاک سبب ګرځي.

(after Fipps, 2007; Palau, 2011).

**د کابل د سند هغه مرستیالان چې په پاکستان کې د سند له سنید سره یو ځای کېږي**

1. د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اوبو د وېش لاسلیک نشته .
2. پاکستان د سیند له هغو اوبو څخه ګټه اخلي، چې له افغانستان څخه پاکستان ته ځي، خو د بهیر د کنترول د جوړښت اندازه کولو او مدیریت د سند لپاره تخنیکي او مالی مرستي نه کوي .
3. هغه له افغانستان سره مرسته کوي، چې د کابل د سیند له پاسه د اوبولګولو کانالونه ښار ته د اوبو د برابرولو اسانتیاوې، د برښنا د تولید او د حفظ الصحی د اصلاح لپاره ورته اړتیا ده، نوي بندونه جوړکړي، دغه به د اوبوبهیر پاکستان ته اغېزمن کړي.
4. د زبالې د ټولولو یا د ککړو اوبو د سمبالولو لپاره په ګڼ نفوسه سیموکې، اسانتیاوې نشته په تېره بیا په کابل کې او همدارنګه په جلاآباد او نورو ځایونو کې ، نوځکه زبالې او ککړتیا جدي ستونزه ده. په زیات مقدار هغه ککړوونکي چې اوبه یې اخیستي اولامبو وهي چې سیند یې ډک کړی دی او د اوبو کېفیت یې د ښښلو لپاره له نړیوال معیار څخه ډېر ښکته کړی دی.
5. د هایدرولوجی بنسټیز ډاټا نشتوالی او تکتا لوجیکي کم ظرفیت چې د سنید د اوبو څارنه وکړي یا دا چې پخواني موافقه تطبیق کړي یا د اوبو د وېش نوی نظم او موافقي ته ورسېږي .

**د هلمند د سیند حوزه**

1. جګړې اوپه کابل اوتهران کې دحکومتونو د بدلېدلو مانا دا ده، چې هغه موافقه چې د افغانستان اوایران ترمنځ لاسلیک شوې ده ډېره کمه پلې شوې ده .
2. ایران پولې ته نږدې د اوبو له منابعو څخه ګټه اخستي ده اوافغانستان ته یې دهغې تلافي، په هغه ډول چې په قرار داد کې راغلي دي ، نه ده کړې، په همدې ډول یې د ملي حاکمیت درناوی نه دی کړی . په مکرر ډول له پولې تېرشوي دي او ژور کانالونه یې جوړ کړي دي، چې اوبه په خپله ګټه راوګرځوي او په ایران کې یې ځمکي لاندې اوبو څخه د ځمکي لاندې اوبو د زیات پمپ کولو پواسطه په افغانستان کې د اوبو سطح راټیټه کړې ده او د اوبو یهیر یې راکم کړی دی .
3. د افغانستان په ساحه کې له سیند څخه اوبو لګولو په نوي کارونو د اوبو بهیر ښکتنی برخه کې یاني په ایران کې اغېزمن کړی دی . نور زیات بندونه د اوبو زېرمې او کنترول جوړښتونه ښایي د اوبو لګوني او اقتصادي ودې لپاره د اوبو مقدار زیات کړي.
4. په تارخي لحاظ د روانو او ځمکي لاندې اوبو د بهیر څارنه په دوارو هېوادونوکي نه وه ، نو دغي موضوع د اوبو مدیریت او اوبو د وېش پر وړاندې خنډ جوړ وي.
5. له میلیون څخه زیات ایرانیان د ښښلو اوبو اومحلي اقتصاد د انکشاف لپاره د هامون په جهیل چې د هلمند په سیند پورې اړه لري، متکي دي، په افغانستان کې د سیند د بهیر په پاسنی برخه کې

وچکالي، په وخت په وخت د اوبو اندازه کمه کړې ده او په تکراري ډول د جهیل اوبه وچې شوي دي.

6. د افغانستان په اړخ کې د اوبو کمښت ددې سبب شوی دی، چې د کوکنارو په تولید کې د کتنې وړ زیاتوالی راغلی دی زیات شي، ځکه چې کوکنار د وچکالی په وړاندې مقاومت لري.

## د هریرود – مرغاب د سیند حوزه

1. له ایران او ترکمنستان سره چې افغانستان ددې سیندونو اوبه ورسره وېشي موافقه نشته او د تاریخ په اوږدو کې د هغې د اوبو د بهیر ریکارد نه دی ساتل شوی.
2. نه ایران او نه ترکمنستان افغانستان ته د هغې اوبو معاوضه چې د هغوی هېوادونو ته ځي ورکړې ده او نه یې د اوبو د مدیریت بنونو د اوبو د زیرمه کولو یا په افغانستان کې سیند د بهیر په پاسنی برخه کې د سیلاب د کنترول د جوړښتونو لګښتونه ورکړي دي او نه یې افغانستان ته په خاوره کې د بند د جوړولو لګښتونه ورکړي دي. د اوبو په بین المللی قانون کې د دې موضوع توقع شوې ده .
3. په افغانستان کې د نوي او اړتیا وړ بندونو او اوبو لګولو شبکې ښایي د سیند بهیر په ښکتنۍ برخه کې د اوبو بهیر اغېزمن کړي او په مکرر ډول ایران په افغانستان کې د بند په جوړولو اعتراض کړی دی.
4. هغه اوبه چې له هریرود څخه په ایران کې د دوستی بند ته جریان مومي او له هغې څخه د مشهد ښار ته د اوبو د پمپ کولو عمده منبع ده، نو د سیند جریان په ښکتنۍ برخه کې کمښت ښایي عمده ستونزه شي.

## د اموسیند حوزه ( د ارال دسمندرګي دحوزې د یوې برخې په توګه).

1. د اموسیند په ښکتنۍ برخه کې اوبو ته اړتیا په اوبولګولو کې تقریباً ۹۲ سلنه وه، نو د سیند د بهیر په پاسنۍ برخه کې بند جوړول یا د هغې د مرستیالانو له پاسه په افغانستان کې د بند جوړول ښايي جدي عواقب ولري، ځکه چې په ډراماتیک ډول د ارال سمندرګي له اضمحلال سره مخامخ کوي (Micklin، ۲۰۰۷ )
2. په موسمي ډول له اوبوڅخه ګټه اخېستنه ( د انرژۍ تولید په ژمي کې د اوبو زېرمه کول کموي او په همدې ډول اوبه لګول په اوړي کې د اوبو اندازه کموي) د اوبوتعادل له عمده ننګوني سره مخامخ کوي.
3. کرنه او اوبه لګولو پراختیا ښایي په شمالي افغانستان کې زیات شي، همدغه موضوع د سیند د بهیر په ښکتنۍ برخه کې ښایي د سیند د اوبو بهیر ډېر زیات اغېزمن کړي
4. ترکمنستان اوازبکستان په ډېره زیاته پیمانه په اموسیند او د سیر دریا په سیندونو متکي دي، نو هر تغیر په افغانستان کې نوموړو هېوادنو ته لوی ګواښ ګڼل کېږي.
5. د اوبو اسانتیاوو نه شتون یا د ککړو اوبو پاکول اوتصفیه کول د اموسیند په بهیرکې یوه ستونزه ده.

6. د سيند د بهير تغير يو لوري ته ددې سبب شو، چې د نړيوالې پولې ښخه ځو کېلو متره چې د سيند په (original thalweg channel) جوړشوی دی انحراف کړی دی. د سيند د مسير تغير د افغانستان په تاوان تمام شو، ځکه چې هېواد ددې توان نه لري، چې د اهتکال په وړاندې ساحلې سيمې پياوړي کړي.

- په ځينو حالتونو کې باراني طوفانونه د زياتو فاجعو باعث ګرځي، سيلابونه زياتېږي او زياتې ډبرې او ختې له غرنی ځوړې ښخه درو ته راوړي.
- اقليمی بدلون به همدارنګه د وچکالی د فشار په پای کې له منځه يوسي.
- افغانستان او ګاونډي هېوادونه به تولي منابع او اوبه انداز کړي، چې د هغې له مخې له ګاونډي هېوادونو له قوي دريځ ښخه چې په پوهه سمبال وي مباحثې وکړي ( ۲،۶ جدول).

۲،۶ جدول د پولې په دواړو خواو کې د اوبو په باره کې د اغيزمنې او دوامداره همکارۍ په لورګامونه).

(after King and Sturtewagen, 2010).

---

1. په افغانستان اوشاوخوا هېوادنو کې هايدرولوجيکي او متيورولوژيکي پوهې بنسټ پياوړی کوي
2. په رسمي ډول د اعتماد د جوړلو چوکاټ رامنځته کول، چې د اوبو پاليسي د افغانستان او د هغې د ګاونډيو هېوادنو او تمويلونکو ترمنځ د هغې شريکول.
3. د نړيوالې تولني ملاتړ هڅول او بسيج کول، چې د سيمه ييزې ستراتيژۍ په لورحرکت وکړي او يوازې د اوبو په موجوده سيستم اکتفاء ونکړي.
4. د ځو اړخيزه ډيالوګ پروسه په لاره واچول، ترڅو باور رامنځته کړي او پولې په دواړو خواو کې د مديريت د ميکانيزم او د حکومت ترمنځ اجندا چې بنسټ يې د سيند د حوزې امنيت اوڅارنه وي ، په لاره واچوي.
5. په سيمه کې په منظم ډول د اوبو د مجربو متخصيصنو منظمې غونډې دايرول.
6. د اوبو د راويستلو او خارجولو شيټ ( the withdrawal sheet ) ښيي، چې تولې اوبه چېرته ځي (۶۰۷ شکل ۸۰۷ جدول)
7. کېدای شي د اوبو زياته سيما په هغو ځايونو کې وده وکړي، چې د اوبو د مديريت هر اړخيزه سيستمونه رامنځته شوي او په نوي ميتورولوژيکي ترينګ ساتل شوی دی ( جدول۹۰۷)

- ډېر ښه معاصر علمي کتنه ښوولې ده، چې د افغانستان جنوب به په راتلونکې ۱۵- ۲۰ کلونو پورې وچ شي ( ۲،۶ شکل).



*۲،۶ شکل:د 2030 کال نقشه په افغانستان کې په سوېل کې د باران احتمالي کمښت ښيي. دا نقشه د امریکا د متحده ایالاتو د ملي ټولنې له خوا جوړ شوی. په شمالی افغانستان کی د واوره او باران زیاتیدو امکان لیدل شوی ده.*

- که چېرې افغانستان او نورې سيمې وچې شي، په دښتو باندې د ځمکې د تغير ستونزه به نوره هم زياته شي. دغه د دښتي کېدو ډېره له ګواښنه ډکه ستونزه ده ( ۳،۶ شکل).
- ددې امکان شته ، چې د افغانستان شمال به همدغه وخت کې زيات ورښت ولري(۲،۶ شکل).



*۳،۶ شکل: په دښته باندي د افغانستان د اسیب پذیری د لامل ارزونه ښیي چې د نقشي هغه برخه چې سره ده، زیاته اسیب پذیره ده، لکه چې څرګندیږي، د هېواد زیاته برخه په دښته له بدلېدو سره مخامخ دی. کم رنګه آبي او کمه نګه خاورین، له پخوا څخه بشپړه دښته ده.*

- د دغې ستونزې له یوازینی حل لاره څخه داده، چې په غور سره په هېواد کې د اوبو حجم اندازه کړی او دهغې معلومات شریک کړي، چې د ابوو ساینس پوهان هر چېرته چې وی، په هغې له پوهېدو سره مرسته وکړي. او داوبو د کمبوت ستونزې تر هغه ځایه چې امکان لري، عیاری کړي. ( ۴،۶ شکل او ۲،۶ جدول).




*۴،۶ شکل: په افغانستان کط د اوبو دمدیریت نوی سیمه بیز روش او ګاونډي هېوادونه ښیي چې اقلیم بدلېږي او اوبه کمیږي. اصلي مفکوره داده چې په ګډه سره باید نوی معلومات تر هغه ځایه چې امکان لري، راټول کړو او تر خپله وسه پورې باید دغه معلومات شریک کړو، ځکه چې همدغه به د افغانانو د ستونزې په حلک کې ډېره ریاته مټه ګټل کېږي.*

**له لیرې واټن څخه د زده کړې شپږم ماديول پوښتنې (دلته کلیک وکړی)**